






محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نېټه : ۲۴ د سمبر ۲۰۱۳ ميلادی

# د اور لمبې

د ور لمبې شوې تر آسمانه له کابـــله ځمه
دژوند اميد ورک شو هر چانه له کابله ځمه

ما ويل کابل نه به هيڅکله زه سفر نــه کووم
ژوند به هيڅکله له کابله زه بهر نه کووم
ولی ځا لمه ناکسان په زخمو ما لګه شيندی
خپله خوښي د مظلومانو له وژلو ميندي

خدايه ته ګره دوي پښيمانه له کابله ځـــــمه
دژوند اميد ورک شو هر چانه له کابله ځمه

وی دی لعنت چه څوک خوښي نورو غمو کی لټي
وی دی نفرت چه څوک مستي نورو کورو کی لټي
هری خوا چيغی او نارئ دي له وحشـــيانو څخه
د وينو اوښکی نن بهيږي يتيمــــــــــــا نو څخــه

دودی خدای ورک کړی له افغانه له کابله ځمه
دژوند اميد ورک شو هر چانــــه له کابله ځمه

خواره واره ولګي پراته دي په هر خواه افغانان
ناست منتظره ګوندی راشي بيـا دصلحی دوران
بس دی وحشيانو دا وحشت په غريبانو بس دی
بس دی نور مړينه او هجرت په افغانانو بس دی

بسکه دا چيغې او نارې بسکه رحمانه له کابله ځمه
داور لمبي شوی تر آسمانـــه له کابـــله ځـــــمه
دژوند اميد ورک شو هرچانه له کـــابله ځـــــمه

****

محب الرحمن « خطيبي »
١٩٩٣/٢/۴

بازگشت به صفحه اصلی - WWW.SAID-AFGHANI.ORG